مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخړ ٢٠٢۶/٠۶/٢٣

# لر او بر پښتانه او د پاکستان انګرېزي پالیسي

(شلمه برخه)



(د سره جومات انځور)

### پنجابی پوځ: جوړښت، شالید او کودتاګانې(١۶)

### جنرال مشرف او د اسلامآباد پر سره جومات (لال مسجد[1]) باندې برید (١)

٢٠٠٧ز. کال، د جنرال مشرف لپاره تر ټولو خونړی کال ؤ، په دې کال کې مشرف ډېرې ناوړه او خطرناکې چارې ترسره کړې، په ډېرو ناقانونه کړنو سربېره، هغه په اسلام آباد کې پر سره جومات (لال مسجد) خونړی برید وکړ، بیا یې په اکتوبر کې په کراچۍ کې د بېنظیر بوټو د راستنیدو پر مهال د هغې پر هرکلي‌کوونکي کاروان باندې دوه بمي چاودنې ترسره کړې او د همدې کال **د** ډسمبر په ٢٧ مه نېټه پر بېنظیره باندې مرګونه برید هم وکړه چې په پایله کې بېنظیره ووژل شوه.

د ٢٠٠٧ز. کال یوه مهمه پېښه پر سره جومات د جنرال مشرف په امر د پاکستان د امنیتي ځواکونو یرغل ؤ چې لومړی به په دې تړاؤ مالومات وړاندې کړو او وروسته به د پاکستان د لومړی وزیرې بېنظیر بوټو پر ترور رڼا واچوو:

جنرال مشرف د امریکایانو د غولوني په موخه، په اسلام آباد کې پر سره جومات او ورسره څېره د حفصې په ښځینه مدرسه باندې بریدونه وکړل چې په دې توګه یې یو ځل بیا نړیوالو ته وښودله چې ترهګر په ټول پاکستان کې شتون لري، تر دې چې د اسلام آباد په ښار کې هم ځای‌پرځای شوي دي.

---

[1]: د پاکستان په پلازمینه، اسلاآباد کې سور جومات (لال مسجد) په ١٩۶٥ ز. کال کې د ملا محمد عبدالله غازي له خوا جوړ شو او د پاکستان ولسمشر مارشال ایوب خان یې د بنسټ ډبره کېښوده. لال مسجد ځکه په دې نوم یادیږي چې د جومات دېوالونه ته سور رنګ ورکړل شوی دی.
دغه جومات له جوړېدلو راپدېخوا، د پاکستان د پوځي او دولتي مشرانو د پاملرنې مرکز پاتې شوی دی. د پاکستان څو تنو مشرانو لکه ولسمشر غلام اسحاق خان او فاروق لغاري، لومړي وزیر بلخ شیر مزاري، او بهرنیو مشرانو لکه د سعودي عربستان پاچاهانو، فیصل بن عبدالعزیز اوخالد بن عبدالعزیزاو د بنګله دېش ولسمشر ضیاءالرحمن له دې جومات څخه لیدنې کړې دي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

سور جومات، د اسلامآباد په ښار کې ودان شوی دی، د جنرال ضیاء د واکمنۍ پر مهال د نوموړي جومات خطیب **عبدالله غازي** د جنرال ضیاء له نږدې انديوالانو څخه ؤ.[2] دغه ملا ته جنرال ضیاء ډېر زیات واک ورکړی ؤ او د سره جومات امام يې ټاکلی ؤ، ضیاء د دغې جومات په شاوخوا کې دوه مدرسې هم جوړې کړې وې چې يوه يې د **حفصې (جامع حفصه)** په نوم او بله يې د **فريديې (جامع فريديه)** په نومونو يادېدلې.
عبدالله غازي، پر جنرال ضیاء سربېره، له لومړي وزير ذوالفقارعلي بوټو سره هم نږدې اړيکې لرلې، نوموړی يو بنسټپالی ملا ؤ، عبدالله غازي، د افغان جهادي ډلو ټپلو په تنظيمولو او د افغانستان په ورانولو کې مهمه ونډه درلوده، عبدالله غازي په اصل کې بلوڅ توکمه ؤ، **دغه ملا د خپل قوم او خلکو پر وړاندې ډېرې ناوړه کړنې ترسره کړي دي، هغه بلوڅان، د بلوڅ ملتپالو مشرانو: عبدالصمد خان اڅکزی، ولي خان، خير بخش مري، بزنجو، اکبر خان بګټي او نورو پر وړاندې راپارول.**

ملا عبدالله په ۱۹۹۸ ز. کال کې په همدغه سره جومات کې ووژل شو. د هغه تر وژل کېدو وروسته د ده زامنو، **عبدالعزيز غازي او عبدالرشيد غازي**، د نوموړي جومات او مدرسو مسؤليت پر غاړه واخيست.[3]

د ملا عبدالله زوی، عبدالرشيد غازي ملا نه ؤ، هغه اقتصاد لوستی ؤ او د قايد اعظم له پوهنتون څخه يې سره جومات ته راوستلی ؤ. د ملا عبدالله بل زوی عبدالعزيز غازي د (آیاېسآی) پخوانی کارکوونکی ؤ، هغه يې هم دغه جومات او مدرسې ته راوستلی ؤ.
سور جومات د آیاېسآی له مرکزي دفتر څخه (۲۳۰) متره واټن لري او د آیاېسآی د دفتر کارکوونکي هره ورځ سره جومات ته د لمونځ کولو په موخه ورتلل.[4]

د سره جومات د مشرانو اړيکي وروسته له هغې له جنرال مشرف او حکومت سره ترينګلي شوې چې کله «د ۲۰۰۱ ز. کال د سپتمبر د ۱۱مې له پېښې وروسته، ولسمشر پرويز مشرف د امريکا په مشرۍ د (ترهګرۍ پر ضد جګړې) ملاتړ وکړ، دغه ايتلاف د سره جومات له مشرانو سره د ټکر عوامل رامنځ ته کړل ځکه د جومات مشرتابه په ښکاره د طالبانو ملاتړ کاوه.
«سره له دې چې عبدالعزيز او عبدالرشيد له هر ډول منع شويو ترهګرو سازمانونو سره اړيکې ردولې خو دوی د ترهګرۍ پر ضد جګړې او په افغانستان کې د بهرنۍ پوځي مداخلې سخت مخالف وو. هغوی په ښکاره توګه پر پرويز مشرف نيوکې کولې او هغه يې تل غندلو.»[5]
د حکومت او جومات ترمنځ عملي ناوړتريخوالی له هغه ځايه پيل شو چې «د ۲۰۰۵ ز. کال د جولای په مياشت کې، پاکستانيو چارواکو د لندن د بمي چاودنو د څېړنو په تړاو (چې د همدې کال د جولای په ۷مه نېټه شوي وې) پر جومات يرغل وکړ خو د مدرسې ښځينه زدهوونکو چې کوټک او لرګي ورسره وو، د پوليسو مخه ډب کړه.[6] وروسته، حکومتي چارواکو د پوليسو د ډلند له امله ښځينه و غوښته.

## [په لړ خواک سره په پاکستان کې د شريعت پلي کول]()

دا مهال چې د جومات او اړونده مدرسو مشران او کشران زړور شوي وو نو «د ۲۰۰۷ز. کال په لومړيو کې، د سره جومات ملايانو او طالبانو د اسلامي شريعت د پلي کولو او له امريکايانو سره د پاکستان د همکارۍ د پای ته رسولو غوښتنې وکړې او د پاکستان د دولت واک يې ننګاوه.»

د شخړو د پراخيدلو يوه بله پلمه دا وه چې کله «د سره جومات چارواکو، په اسلامآباد کې د پلازمېنې د پراختيايي اداري (CDA)لهخوا د جوماتونو د نړولو پر ضد کمپاين پيل کړ.[7] او وروسته له هغې چې يو جومات په ناقانونه توګه جوړ شوی ؤ، د حکومت لهخوا ونړول شو.

---

[2]: http://news.bbc.co.uk/2/hi/south_asia/6503477.stm

[3]:https://web.archive.org/web/20070712224737/http:/www.pakistantimes.net/2007/07/11/top1.htm
[4]: همانجا
[5]: همانجا

[6] :http://news.bbc.co.uk/2/hi/south_asia/4258224.stm
[7] : https://www.nytimes.com/2007/02/21/world/asia/21library.html

برسېره پر دې، دوی په اسلام آباد کې داسې کړنې ترسره کړې چې د نړۍ پام یې وراړاوه «د سره جومات اړوند، د دوو دیني مدرسو زده کوونکو د شریعت د پلي کولو او د فساد د مخنیوي پراخې چارې پیل کړې، دوی د ماشومانو یو کتابتون ونیو او د اسلامآباد په بېلابېلو سیمو کې یې پر هغو څه چې دوی (نااسلامي) بلل، ناڅاپي بریدونه پیل کړل.



(د شریعت پلي کوونکي)

**په دغو هدفونو کې د DVD پلورنځي، د سلمانیانو دوکانونه او یو چینایي مساج سالون شامل وو چې دوی د زناکاریو تور پرې لګولی ؤ.**[8] او د خاله شیمیم په نوم، یوه مېرمن او د هغې د کورنۍ ښځې یې په بدلمنۍ تورنې کړې او بندیانې کړې وې. دوی دوه تنه پولیس هم بندیان کړل.

عبدالعزیز په یوه غونډه کې وویل چې په دې خاوره (۶۰) کاله وړاندې اسلامي حکومت جوړ شوی ؤ خو تر نن ورځې پورې په دې ځای کې غیراسلامي کارونه روان دي، په دې غونډه کې عبدالعزیز د پاکستان حکومت ته یوه میاشت وخت ورکړ چې د موسیقۍ دوکانونه وتړي او د فحاشیو مخه دې ونیسي. **«د اپرېل په ۶مه، ملا عبدالعزیز د پاکستان د فدرالي قضایي نظام ترڅنګ، د شریعت یوه موازي محکمه هم جوړه کړه، هغه ژمنه وکړه چې که حکومت د هغې د ترلو هڅه وکړي، زرګونه فدايي (ځانمرګي) بریدونه به ترسره کړي.»**[9]

ځینو دیني عالمانو د دوی دا عمل رد کړ، د پاکستان پېژندل شوي دیني عالم **ډاکټر فاروق خان**[10] په اسلام آباد کې د اسلامي شریعت د اعلان غندنه وکړه ده وویل:«دا بلکل بې وقوفي ده، دا غلط کار دی، په دې سره نه اسلامي شریعت راتلی شي او نه په دې طریقې سره د اسلام خدمت کیږي، په دې سره، ټول اسلام ته نقصان کیږي، د اسلام د دعوت لاره بندیږي، اسلام چې په آزادۍ باندې یقین ساتي هغه ختمیږي، په دې وجه جمهوریت هم ختمیږي... »



(ملا عبدالرشید غازي)

د جومات امام عبدالرشید، ۶ میاشتې وړاندې د پاکستاني حکومت لهخوا بندي شوی هم ؤ، **په هغه تور ؤ چې له ځمکې - هوا ته (سټنګر) توغندي یې له ځان سره ساتلي دي.** چې بیا وروسته، نوموړی ملا د جنرال ضیاء د زوی اعجازالحق (چې د جنرال مشرف په حکومت کې د دیني چارو وزیر ؤ) له بنده خوشې کړای شو.
پر سره جومات له برید وړاندې، ۶ میاشتې پخوا د سره جومات ملایانو او طالبانو ځانونه جګړې ته چمتو کړي وو، په جومات کې کلاشینکوفونه، لاسي بمونه، چاودیدونکي توکي او نورې وسلې ځایپرځای کړې وې.

## پر جومات او مدرسه، د برید امر او د ملایانو او طالبانو ماتې

پر جومات او مدرسه باندې له لوی برید وړاندې د حکومتي ځواکونو او طالبانو تر منځ وړې، وړې نښتې رامنځ ته شوې وې خو د وروستي برخهلیک ټاکونکي برید څخه مخکې د سولې خبرې هم رواني وې، هغه وو چې «د ۲۰۰۷ز. کال د جولای په اووم مابنام، جنرال مشرف وروستی ګوتڅنډنه (التیمېټم) ورکړ، ویې ویل:**«هغه کسان چې تسلیم نه شي، وبه وژل شي.»**[11]

لکه څرنګه چې دا مهال د سولې خبرې رواني وې جنرال مشرف د سولې خبرو ته پام ونه کړ او پر جومات او مدرسه یې د یرغل امر وکړ. «دواړو لوري یوې هوکړې ته رسېدلي وو خو په وروستی شیبه کې ولسمشر پرویز مشرف هغه

[8]: https://web.archive.org/web/20090420050830/http:/www.time.com/world/article/0,8599,1892254,00.html

[9]: *https://web.archive.org/web/20160305005909/http:/english.ohmynews.com/articleview/article_view.asp?menu=&no=354646&rel_no=1*

[10]: ډاکټر فاروق خان د خپلو سولهییزو ویناګانو له امله په ۲۰۱۰ز. کال کې د پښتونخوا په مردان ښار کې په خپل کلینیک کې د ناپېژاندو کسانو لهخوا په ډزو ووژل شو.

[11]: https://www.reuters.com/article/economy/musharraf-tells-mosque-militants-quotsurrender-or-diequot-idUSSP282394



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

خبري لغوه کړي او پوځ ته يې د بريد امر وکړ.»[12] يوې ځانګړي کوماندو قطعې (SSG) ، ته د شپې لهخوا د بريد امر وشو، کوماندېو ځواکونه د درنو وسلو په ملاتړ چې توپچي، ټانکونه او زغرهوال ګاډي په کې شامل وو، پر جومات يرغل وکړ او د نږدې ودانيو، پر بامونو يې د کلابندۍ سنګرونه جوړ کړل. د شپې، شاوخوا يوه بجه وه چې د SSG کوماندو ځواکونو **د ټانکونو او کوبرا چورلکو (هاليکوپټرو) تر پوښښ لاندې** د جومات پر بهرنيو برخو بريد وکړ خو په ځواب کې له سخت وسلهوال غبرګون سره مخ شول. کوماندو ځواکونو د جومات او د هغه ترڅنګ د حفصې مدرسې د ودانۍ ځلور ديوالونه مات کړل او لوی لوی سوري يې په کې جوړ کړل.
**په دغه نښته کې «د SSG قوماندان، ډګروال (هارون الاسلام) د عملياتو پر مهال ټپي شو خو دوه ورځې وروسته يې په روغتون کې ساه ورکړه.»[13]**

بلې خوا ملا عبدالرشيد غازي حکومتي ځواکونه د خپلو زده کوونکو د مرګ ژوبلې مسؤل وبلل، هغه وويل چې د بريد پر مهال، په بمباريو کې ديوالونه ونړيدل او ډېر زده کوونکي، **په ځانګړي توګه ښځينه طالباني يې وژلې دي.**

په لاندې لېنک کې پر جومات او مدرسه باندې بريد او د ښځينه او نارينه زدهکوونکو غبرګون وګورئ:
https://www.youtube.com/watch?v=DFMFLB7VRk4

د ۲۰۰۷ز. کال د جولای په ۱۰م سهار، پاکستاني پوځ خپلې ځانګړي قطعې ته امر وکړ چې پر سره جومات او ورسره نښتي حفصې مدرسې باندې [پلې] بريد وکړي.
کوماندېو ځواکونه يرغل پيل کړ خو د جومات د چت پر سر د شګو د بوجيو تر شا له سنګرونو او د جومات له کړکيو څخه تر ډزو لاندې راغلل. **پوځيانو د عملياتو په همدې پړاو کې تر ټولو زيات تلفات ورکړل.** پوځيانو په چټکۍ سره د جومات اصلي ودانۍ تر خپل کنټرول لاندې راوسته او وروسته حفصې مدرسې ته ننوتل.[14]
**په مخامخ او تن په تن جګړه کې د لوګي لاسي بمونه، اور اچوونکې وسلې، فاسفورس ګاز، اوښکې بهوونکې ګاز او لاسي بمونه وکارول شول.[15]**

سختې جګړې څو ساعته دوام وکړ چې پوځيانو د مدرسې کنټرول ترلاسه کړ او په پای کې يوازې د ودانۍ تلخونه پاتې شوه. د عملياتو پر مهال له جيو ټلوېزيون سره عبدالرشيد غازي، په خپله وروستۍ مرکه کې (چې د ودانۍ په تلخونه کې يې پناه اخيستې وه) وويل چې ناروغه مور يې په ډزو کې ټپي شوې ده. هغه زياته کړه چې حکومت خپل ټول ځواک کاروي. دا ښکاره تېری دی ... زما وژل اوس حتمي دي.
په تلخونه کې نښتې دوام درلود. **ملا عبدالرشيد غازي لومړی په پښه ټپي شو، بيا ورته د تسليمېدو بلنه ورکړل شوه خو د جګړې له سختيدلو سره په هماغه خونه کې ووژل شو.[16]**
د عبدالرشيد غازي خوښينه (ام حسن) هم د هغو ښځو په ډله کې وه چې په تلخونه کې يې سنګر نيولی ؤ او له تسليمېدو يې انکار کاوه. هغه ټپي او وروسته ونيول شوه. **د عبدالرشيد غازي ناروغه مور او د هغه ورا‌ره حسن غازي هم ووژل شول.**
جګړه تر هغې روانه وه چې په تلخونه کې بنديانې ټول کسان يا تسليم او يا ووژل شول.[17]

د ۲۰۰۷ز. کال د جولای په ۱۱مه، پاکستانيو چارواکو اعلان وکړ چې د جومات او مدرسې ټوله ودانۍ نيول شوې ده او د نومړو ودانيو د بشپړ کنټرول لپاره ۳۶ ساعته وخت لګېدلی دی.

---

12: https://www.dawn.com/news/255773/musharraf-blamed-for-talks-failure
13: http://news.bbc.co.uk/2/hi/south_asia/6281404.stm
14:https://web.archive.org/web/20080613175118/http:/www.chinadaily.com.cn/world/2007-07/10/content_5424458.htm
15:https://www.thenews.com.pk/archive/print/65420-phosphorus-bombs-used-in-jamia-hafsa-operation-ejaz
16:https://web.archive.org/web/20070712224737/http:/www.pakistantimes.net/2007/07/11/top1.htm
17:https://www.economist.com/asia/2007/07/10/the-last-battle


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

د عبدالرشيد غازي ښځه امنيتي ځواکونو ونيوله خو د عبدالعزيز ښځه او لور له مدرسي وتلي وې او **عبدالعزيز د (۶۰) تنو جلکيو په منځ کې «په چادرۍ کې له جوماته د ووتلو په حالت کې د پوځي ځواکونو لهخوا ونيول شو.»**[18]

د ملا عبدالعزيز له نيول کېدو وروسته د مدرسو اړوند، شاوخوا ۸۰۰ زدهکوونکو هلکانو او ۴۰۰ نجونو زدهکوونکو ځانونه چارواکو ته تسليم کړل.



د سره جومات څو تنه نيول شوي يا تسليم شوي) پاخونوال.)

د جومات او مدرسي نيول په لاندي لينک کې وګورئ چې خواشينونکي صحني هم لري؟
https://www.youtube.com/watch?v=5Qlx178tKSA

## د سر زيانونه (تلفات)

پاکستانيو چارواکو دغه عمليات بريالي وبلل، ويې ويل چې هغوی وکړای شول په جومات کې دننه ټول وسلهوال کسان پرته له درنو ملکي وژنو څخه له منځه يوسي.[19]
**د پاکستان د پوليسو لوی مفتش راپور ورکړ چې د عملياتو په ترڅ کې ۱۰۲ کسان وژل شوي دي: ۹۱ کسان د وسلهوالو ډلو غړي، ۱۰ تنه د ځانګړو خدمتونو ډلې (SSG) کوماندو او ۱ تن د نيمهپوځي ځواکونو غړی.** په ټوليز ډول ۲۴۸ کسان ټپيان شوي وو چې له دې ډلې ۲۰۴ تنه ملکي وګړي، ۴۱ تنه د پوځ سرتېري او ۳ رېنجر ځواکونه وو. د عملياتو له پای ته رسېدو وروسته د پېښي په ځای کې ۷۵ جسدونه وموندل شول.[20]

يو شمېر مړي چې خپلخپلوان يې نه لرل او يا يې د حکومت له وېرې نه غوښتل خپل مړي له ځان سره يوسي، په يوه هديره کې خاورو ته وسپارل شول، يو تن مريستون کيندونکي وويل: ښايي په هر تابوت کې له يوه څخه زيات جسدونه ايښودل شوي وي. راپور دا هم ويلي وو چې حکومت تر هغه ډېر مريستنونه کيندلي چې مخکي يې اعلان کړې وو.[21]

بله سرچينه وايي چې «د سره جومات اويا جسدونه اسلامآباد ته نږدې په يوه هديره کې خاورو ته وسپارل شول. د دې لپاره چې خپلوان يې وکولای شي په راتلونکي کې جسدونه وپېژني او ترلاسه يې کړي، چارواکو د لندمهال لپاره [امانت] تر ښخولو مخکې د هغوی عکسونه، د ګوتو نښې او د DNA نموني واخيستې.»
د مذهبي ګوندونو ايتلاف متحده مجلس عمل (MMA) ادعا وکړه چې **د ښځو او ماشومانو په ګډون د ۴۰۰ او ۱۰۰۰ تنو ترمنځ زدهکوونکي وژل شوي دي.**

لکه څرنګه چې پاکستانيو چارواکو وويل چې په دې جګړه کې لږ خلک وژل شوي دي، حقيقت نه لري، جنرال مشرف په دې ۸ ورځنۍ جګړه کې ډېر ناانډوله ځواک وکاراوه، پوځ د جومات د وسلهوالو (چې يوازې کلاشينکوفونه، لاسي بمونه او ماسکونه ورسره وو) سربېره پر کوماندو ځواکونو، د ټانکونو، زغروالو ګاډو، چورلکو او بېپيلوټه الوتکو کار واخيست، **تر دې چې پوځيانو څو ډوله ګازونه، په ځانګړي توګه منع شوي کمياوي توکي (سپين فاسفورس) هم وکارول. (چې دا ډول منع شوي کمياوي توکي د اسراييلو پوځ پر فلسطيني مجاهدينو کاروي.)**[22] **د پاکستانيو چارواکو**

---

[18]: http://news.bbc.co.uk/2/hi/south_asia/6274518.stm
[19]:https://web.archive.org/web/20071222000958/http:/www.sfgate.com/cgi-bin/article.cgi?file=/c/a/2007/07/12/MNGOTQUTPG1.DTL
[20]: https://www.dawn.com/news/256353/bodies-not-kept-in-i-9-storage-sc-told
[21]:https://web.archive.org/web/20071009084010/http:/www.nation.com.pk/daily/july-2007/13/nationalnews3.php
[22]: د ډېرو مالوماتو لپاره ولولئ، په افغان جرمن آنلاين پورټال کې، د دې قلم ليکنې: د يهودو عادلانه جګړې: ۷۳يمه او ۱۱۴مه برخه.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په خير و لولئ

**په وینا، «نولس جسدونه دومره سوځېدلي وو چې پېژندل یې ناشوني وو.»[23] دغه سوځیدلي جسدونه ښیي چې پوځیانو په جومات او مدرسه کې له منع شویو کمیاوي توکو کار اخیستی دی.**

پاکستانیو پوځیانو له یوې خوا، د هر ډول وسلو کارولو له امله ډېر خلک ووژل، بلې خوا په جومات او مدرسو کې په زرګونو طالبان او ښځینه طالبانې موجودې وې چې د ګڼې‌ګوڼې له کبله د پوځ ډېرې مرمۍ پر زده‌کوونکو نښتې چې د مرګ سبب کیدلې.




(د ملا عبدالرشید غازي، له څېرې ښکاري چې هغه یو شهید دی خو په لاند انځور کې،
د ښځو په چادری کې د ملا عبدالعزیز غازي تېښته لویه بې‌شرمي ده.)



نېټه: ۱۴۰۵/۴/۲ل. ل

**نور بیا**

[د ښاغلی محمد انور اخڼ نوري لیکنې په دی لینک کې ولولی.]

---

[23]: https://www.reuters.com/article/uk-pakistan-mosque-scene/charred-bodies-found-in-pakistan-mosque-school-idUKISL4491420070712/


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ